## افغانانو ته د موقتي اقامې د اجازې تمدید (Re-Parole) په اړه په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې (FAQs)

**پوښتنه: که چېرې تاسې د USCIS د آنلاین حساب یا هم مکتوب له لارې خپل غوښتنلیک سپارلی وي، آیا د (موقت اجازه لرونکو افغانانو) د پارول د تمدید د نوي غوښتنلیک پروسه په دواړو حالتونو کې ورته ده؟ د بېلګې په توګه، آیا د غوښتنلیک د فیس معافیت به د پارول د تمدید (Re-Parole) او د استخدام د جواز سند (EAD) د دواړو USCIS آنلاین حساب یا هم مکتوب له لارې غوښتنلیک لپاره د تطبیق وړ وي؟**

**ځواب**: هو، د دی منظم پروسې له لارې غوښتنلیکونو په آنلاین او یا هم مکتوب له لارې ډکولو طریقه یو شان ده او د فیس معافیت پر دواړو باندې د تطبیق وړ وي. که څه هم، د USCIS د آنلاین حساب له لارې د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره غوښتنلیکونو ډکولو سره تاسې د بعضي تېروتنو او غلطیانو څخه لکه د لاسلیکونو هېرول، د مکمل پاڼو پاتې کېدل او نیمګړي غوښتنلیکونو سپارلو څخه مخنیوي کولای شئ. دا هغه عام دلیلونه دي چې موږ یې له امله په مکتوبي بڼه سپارل شوي بعضی فورمونه ردوو. د myUSCIS اپلیکشن له ګرځند ټلیفونو له لارې د لاسرسی وړ دی. دا پدې معنی ده چې تاسې کولای شئ چې خپل د ګرځند تلیفون او یا ټابلیټ له لارې خپل فورمې ډکې کړئ او وسپارئ. په یو وخت کې تاسې کولای شئ چې خپله فورمه وسپارئ، اړین او ضروری اسناد پورته/اپلوډ کړئ او په آنلاین بڼه خپل آدرس او معلومات آپډیټ/تازه کړئ. که چیرې په یو ناسته کې نه شئ کولای خپل فورمه تکمیل کړئ، تاسې کولای شئ ورسته نیمګړي معلومات ډک کړئ. ستاسې معلومات تر ۳۰ ورځو پورې ساتل کیږي. تاسې کولای شئ چې په آپلیکیشن کې خپل د درخواست په اړه تازه معلومات، آپډیټونه او خپل د فعالیتونو ریکارډ وګورئ. موږ په دري او پښتو ژبو لارښوونې لرو چې تاسې سره مرسته کوي چې په وړتیا ډول خپل آنلاین حساب جوړ کړئ.

**پوښتنه: آیا د نوي فیس معافیت پروسې د چتر لاندې د موقت اجازه لرونکي افغانانو (Parolees)** لپاره د پارول **د تمدید (Re-Parole) درخواست ورکولو پای نیټه شتون لري؟**

ځواب: هو، هغه افغان اتباع چې د مهاجرت منل شوی دریځ (Approved Status) نلري باید د خپل لومړني پارول له پای ته رسیدو دمخه او د June 8, 2023 څخه د July 31, 2024 پورې د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره عریضه وکړي. که چیرې د یو غوښتونکي ابتدايي پارول پای ته ورسیږي، دوی به نور په متحده ایالاتو کې د پاتي کیدو/اوسېدو اجازه ونلري مګر دا چې دوی ته د کډوالۍ حالت لکه پناهندګۍ، د ځانګړي مهاجر پر بنسټ قانوني دایمي استوګنې یا موقت خوندي حالت (TPS) ورکړل شوی وی یا چې دوی په قانونی ډول په متحده ایالاتو کې د پاتې کیدو اجازه ولري مثلا د پناهندګۍ غوښتنلیک یې په جریان کې وي. مونږ تاسو په کلکه هڅوو چې هرکله نوې پروسه د لاسرسي وړ وګرځي د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره غوښتنلیک پر وخت سره تکمیل او وسپارئ. هرکله چې ستاسو پارول تمدید شي، تاسو به د ځینې ګټو لکه نغدي او طبي مرستې او نور خدمتونو د ترلاسه کولو وړ پاتې شئ چې د [Office of Refugee Resettlement (ORR)/ د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR)] لخوا تمویلیږي. د یادونې وړ ده چې د TPS ګټه اخیستونکي د ځانګړو قانوني موقت اجازه لرونکو افغانو (Afghan Parolee) ګټو لپاره وړ ندي که چیرې د دوی پارول (موقت اجازه) پای ته ورسیږي.

**پوښتنه: که چېرې ما دمخه د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنه کولو لپاره I-131 فورمه سپارلې وي (یا چا زما په استازیتوب فورمه سپارلې وي)، نو باید څه وکړم؟**

ځواب: که تاسو د دې نوي منظم شوي د پارول د تمدید (Re-Parole) پروسې پیل کېدو دمخه د تمدید درخواست ورکولو لپاره د I-131 فورمه وړاندې کړې وي (یا بل چا ستاسو په استازیتوب سپارلې وي)، مهرباني وکړئ HumanitarianParole@uscis.dhs.gov

ته ایمیل/بریښنالیک واستوئ. مهرباني وکړئ د خپل بریښنالیک په موضوع/سبجېکټ لاین کې "Afghan Re-Parole" او د IOE رسید شمیره/نمبر ولیکئ. USCIS به پخوانۍ د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیکونه نوي منظم پروسې ته وګرځوي که چیرې اشخاص موږ ته پخپله د ځان پېژندلو لپاره بریښنالیک/ایمیل واستوي.

تاسو کولای شئ په دې پیغام کې اعلان شوي منظم شوي پروسې په کارولو سره نوي غوښتنه هم وسپارئ، د دی سره به تاسې د فیس معافیت ترلاسه کړئ او ستاسې د استخدام جواز سند (EAD) پروسس به حین وخت کې شروع شي.

که تاسو ترجیح ورکوئ چې د دې منظم پروسې له طریقه درخواست ورنکړئ، موږ به بیا هم ستاسو د پارول د تمدید (Re-Parole) مخکنۍ غوښتنه په پام کې ونیسو؛ مګر که ستاسو درخواست/غوښتنه قبول شي، نو بیا به تاسو اړتیا لرئ چې په جلا توګه د I-765 فورمه ډکولو سره د نوي EAD غوښتنه وکړئ، چې **د استخدام د جواز سند** (EAD) ترلاسه کولو غوښتنلیک دی.

که تاسو پریکړه وکړله چې د فیس معافیت او د استخدام د جواز سند (EAD) پروسس ترلاسه کولو لپاره د دې منظم پروسې له طریقه یوه نوې درخواست وسپارئ، تاسو کولای شئ چې یو ایمیل/بریښنالیک HumanitarianParole@uscis.dhs.gov ته واستوئ چې تاسو غواړئ خپله ورستۍ درخواست بیرته واخلئ. یو ځل بیا، مهرباني وکړئ د خپل بریښنالیک په موضوع/سبجېکټ لاین کې د خپل IOE رسید شمیره/نمبر او "Afghan Re-Parole" ولیکئ.

**پوښتنه: زه پوهیږم چې د افغانانو لپاره د پارول د تمدید (Re-Parole) او د استخدام د جواز سند (EAD) لپاره غوښتنلیک پروسه لګښت نلري. آیا زه باید د فیس معافیت ترلاسه کولو لپاره جلا فورمه وسپارم؟**

ځواب: نه. که تاسو یو افغان یاست او تاسو متحده ایالاتو ته د OAR یا PAR له طریقه پارول (موقت اجازه) ترلاسه کړی وي، موږ به په اوتومات ډول ستاسو د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست او د کارموندنې جواز سند (EAD) لپاره د درخواست ورکولو لګښتونه لرې کړو.

**پوښتنه: آیا لازمه ده چې باید د هویت سند په توګه خپل تذکره وسپارم؟**

ځواب: نه. تاسو باید لږ تر لږه یو د حکومت لخوا صادر شوی د هویت سند وسپارئ چې ستاسو عکس، نوم او د زیږون نیټه په کې درج وي، لکه د استخدام سند، د موټر چلولو جواز/لایسنس، پاسپورټ، یا تذکره. حتمي نه ده چې د هویت سند چې تاسو یې وړاندې کوئ یوازې دې تذکره وي.

که تاسو USCIS ته کوم داسې سند سپارئ چې په بهرنۍ ژبه وي، نو تاسو باید د انګلیسي ژبې بشپړه ژباړه/ترجمه هم ورسره وسپارئ چې د یو وړ ژباړونکي لخوا د بشپړ او کره په توګه تصدیق شوی وي، او همدارنګه د ژباړونکي تصدیق چې دا تایید کړي چې دوی د بهرنۍ ژبې څخه انګلیسي ته د ژباړلو وړتیا لري.

## د استخدام د جواز سند (EAD)

**پوښتنه: زه به د خپل د پارول تمدیدولو وروسته څومره ژر د استخدام د جواز سند (EAD) ترلاسه کړم؟**

ځواب: موږ به د یوې منظمې پروسې له لارې کار وکړو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې د وړ افغان اتباعو څخه د پارول تمدیدولو او EAD غوښتنې پر وخت سره پروسس شي. په آنلاین توګه د غوښتنلیکونو ډکول کولای شي په عمومي توګه د USCIS ته په فزیکي/کتبي ډول د فورمې لیږلو پرته د وخت کمولو کې نوره مرسته وکړي. په آنلاین توګه د غوښتنلیکونو ډکول د هغه عام غلطیو مخه هم نیسي چې موږ یې د مکتوبي فایلونو سره اکثره مخامخ کیږو کوم چې د غیر ضروري ځنډ لامل ګرځي. وروسته له دې چې موږ ستاسو د پارول د تمدیدولو غوښتنلیک تصویب/تایید کړو، موږ به په اتوماتیک ډول ستاسو د EAD د درخواست پروسس کول پیل کړو او ستاسو نوی EAD به زمونږ په ریکارډ کې ستاسو آدرس ته ولیږو.

د یادونې وړ ده، که تاسو خپل آدرس بدلوئ، تاسو باید خپل نوی آدرس د USCIS سره د خپل USCIS آنلاین حساب/ USCIS online account له لارې آپډیټ کړئ یا د AR-11 فورمې د ایلین د آدرس بدلولو کارت / Form AR-11, Alien's Change of Address Card په سپارلو سره شریکه کړئ. مورږ درسي ویډیوګانې لرو چې تاسو ته ښیي چې څنګه خپل پته د خپل حساب له لارې آپډیټ کړئ او څنګه آنلاین AR-11 فورم وسپارئ. هرکله چې تاسو خپل آدرس بدلوئ، باید USCIS ته خپل د نوی پتې/آدرس په اړه د ۱۰/لسو ورځو دننه راپور ورکړئ حتی که په موقت ډول خپل آدرس بدلوئ.

که تاسو په ۱۰ ورځو کې د خپل آدرس د بدلون راپور نه وي ورکړی، تاسو باید خپل آدرس USCIS سره ژر تر ژره آپډیټ/شریک کړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د متحده ایالاتو د پوستي خدماتو (USPS) یا د متحده ایالاتو بلې دولتي ادارې سره ستاسو آدرس بدلول به ستاسو آدرس د USCIS سره نه بدلوي. مهرباني وکړئ خپل معلومات د USCIS او USPS دواړو سره آپډیټ/تازه کړئ.

**مهم یادونه:** USCIS به EADs اسناد د هغه ترلاسه کونکي ته په هغه آدرس چې په I-131 فورمه کې لیکل شوي یا زموږ سره د فایل ترټولو وروستي آدرس ته لیږي.

**پوښتنه: آیا د USCIS لخوا د پارول تمدیدولو او EAD درخواست ترلاسه کولو خبرتیا په دی معنی ده چې د پارول د تمدید (Re-Parole) او د استخدام د جواز سند (EAD) په اتومات ډول تمدید شوي دي؟**

ځواب: نه. کله چې تاسې د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره غوښتنه کوئ، په اصل کې تاسې د پارول نوې دورې لپاره غوښتنه کوئ. دا د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیک نوی پروسه د لومړني پارول دورې تمدید ندی. که ستاسو د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست تصویب/قبول شي، نو استخدام جواز سند (EAD) د پارول سره تړاو لري، او دا په دې معنی ده چې تاسو د کار کولو واک لرئ پداسې حال کې چې مورږ ستاسو د **استخدام د جواز سند** (EAD) پروسس کوو.

**پوښتنه: که زما نوم زما په اوسني EAD کې زما د لومړني پارول پراساس په غلط ډول لیکل شوي وي، او زه یې د پارول د تمدیدلو لپاره درخواست ورکولو دمخه سم نه کړم، آیا دا پدې معنی ده چې زه د پارول د تمدیدولو لپاره درخواست نشم ورکولی؟**

ځواب: نه. د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست د یوې برخې په توګه، تاسو باید د حکومت لخوا صادر شوي شواهد وړاندې کړئ چې ستاسو د نوم سم املا په کې درج وي. دا شواهد کیدای شي د تذکرې یا ستاسو د پاسپورټ د بیوګرافیک پاڼې په بڼه وي. تاسو باید د انګلیسي پرته په بله ژبه کې د اسنادو انګلیسي ژباړه هم شامل/ضمیمه کړئ.

**بایومیټریک**

**پوښتنه: آیا لازمه ده چې زه د دې نوي پارول غوښتنلیک پروسې برخې په توګه د ګوتو نښې یا نوی عکس په شمول کوم بایومیټریک وسپارم؟**

ځواب: وروسته له دې چې مورږ ستاسو غوښتنلیک ترلاسه او ومنو، که چیرې اړتیا وه چې تاسو د بایومیټریک خدماتو کې برخه واخلئ، مورږ به تاسو ته په لیکلي ډول خبر ورکړو. که اړتیا وه، نو د بایومیټریک خدماتو کوم لګښت به پر تاسې نه وي، او هغه خبرتیا چې مورږ تاسو ته لیږو تاسو ته ستاسو د ځای یا ټاکل شوي USCIS غوښتنلیک ملاتړ مرکز موقعیت او ستاسو د ملاقات نیټه او وخت درکوي. که تاسو د خپل بایومیټریک خدماتو ملاقات ته حاضر نه شئ، مورږ ممکن ستاسو غوښتنلیک رد کړو. مورږ ممکن وکولای شو چې د ځانګړو افغان اتباعو لپاره د متحدینو د ښه راغلاست عملیاتو (Operation Allies Welcome) په جریان کې چمتو شوي دمخه سپارل شوي بایومیټریکونه بیا وکاروو. په دې حالتونو کې، ضرورت به نه وي او تاسو به د بایومټریک خدماتو په اړه خبرتیا ترلاسه نه کړئ.

**صحي معاینات**

**پوښتنه: آیا لازمه ده چې زه د نوي غوښتنلیک پروسې له لارې د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست ورکولو لپاره د I-693 نوې فورمه، د طبي/صحي معایناتو راپور او د واکسین ریکارډ وسپارم؟**

ځواب: نه، مونږ د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره I-693 فورمې ته اړتیا نلرو.

**د USCIS آنلاین حساب/اکاونټ**

**پوښتنه: ولې د 18 کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومان باید ځانته USCIS آنلاین حساب ولري؟**

ځواب: هر هغه درخواست ورکونکي چې د ځان لپاره د منظم پروسې له لارې آنلاین درخواست ورکوي/سپاري، باید خپل ځانګړې برېښنالیک/ایمیل آدرس او حساب ولري. مور او پلار یا قانوني سرپرست کولی شي د خپل کوچني ماشوم لپاره حساب جوړ کړي که چیرې هدف د کوچني په استازیتوب فورمه سپارل وي. که چیرې والدین یا قانوني سرپرست شتون ونلري، یو ابتدایي پالونکی ( Primary Caregiver)، یا د قانوني مرستې چمتو کونکی (Legal Assistance Provider) هم کولای شي د داسې ماشوم سره د I-131 فورمې ډکولو کې مرسته وکړي ترڅو د پارول د تمدید (Re-Parole) او EAD لپاره غوښتنلیک وسپاري.

**پوښتنه: آیا یو مور او پلار کولی شي یو واحد USCIS آنلاین حساب جوړ کړي او د خپل کورنۍ غړو لپاره درخواست ثبت کړي ترڅو کورنۍ وکولی شي د نورو پارول پروګرامونو په څیر یوځای درخواست ورکړي لکه د "اوکراین لپاره متحد" پروګرام؟**

ځواب: د دې منظم پروسې له لارې نشی کولای والدین د یو واحد حساب له لارې ټول کورنۍ غړو لپاره درخواست ورکړي. د کورنۍ هر غړی، حتی د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان باید ځانته د USCIS آنلاین حساب ولري ځکه چې سیستم یو ځانګړي برېښنالیک/ایمیل آدرس ته اړتیا لري.

د "اوکراین لپاره متحد" پروګرام یوه جلا، ځانګړې پروسه ده چې ځانګړې اړتیاوې لري.

**پوښتنه: آیا د پارول د تمدید (Re-Parole) نوی غوښتنلیک یوازې د USCIS آنلاین حساب له لارې د لاسرسي وړ دی؟**

ځواب: نه، د کاغذ/مکتوب له لارې په لیکلي بڼه د درخواست ورکولو ګزینه/آپشن شتون لري. په مکتوبي بڼه درخواست ورکولو څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، [د ځانګړو افغانانو لپاره د پارول د تمدید (Re-Parole) پروسې](https://www.uscis.gov/humanitarian/information-for-afghan-nationals/re-parole-process-for-certain-afghans) ته مراجعه وکړئ. مونږ تاسو هڅوو چې د آنلاین حساب له لارې خپل درخواست ثبت کړئ. په آنلاین توګه د غوښتنلیکونو ډکول د هغه عام غلطیو مخه هم نیسي چې مونږ یې د کتبي درخواستونو کې اکثره مخامخ کېږو چې د غیر ضروري ځنډ لامل ګرځي. د USCIS د آنلاین حساب له لارې د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره غوښتنلیکونو ډکولو سره تاسې د بعضې تېروتنو او غلطیانو څخه لکه د لاسلیکونو هېرول، د مکمل پاڼو پاتې کېدل او نیمګړي غوښتنلیکونو سپارلو څخه مخنیوي کولای شئ. دا هغه عام دلیلونه دي چې له امله یې مونږ په کتبي بڼه سپارل شوي بعضی فورمونه ردوو. تاسو کولی شئ د آنلاین حساب له لارې د نورو ګټو سربېره د خپلې کېس/درخواست په اړه تازه معلومات هم ترلاسه کړئ.

**پوښتنه: آیا قانوني استازي یا یو منل شوی/تایید شوی استازی اړتیا لري چې د G-28 فورمه (د څارنوال یا منل شوي استازي په توګه د حاضرېدو یاداشت) ډکه کړي؟**

ځواب: که تاسو د خپل ځان پر ځای د قانوني استازي یا تایید شوي استازي په مرسته درخواست ورکوئ، قانوني استازی یا منل شوی/تایید شوی استازی چې تاسو سره مرسته کوي باید د کورنۍ د هر غړي لپاره چې دوی یې استازیتوب کوي، د G-28 فورمه وسپاري.

**پوښتنه: آیا قانوني استازي به د خپلو ټولو مراجعینو خبرتیاو/یاداشتونو او اسنادو ته لاسرسی ولري؟**

ځواب: که تاسو د خپل مراجعینو USCIS آنلاین حساب سره وصل شوي یاست، تاسو به وکولی شئ ټول هغه خبرتیاو/یاداشتونو ته لاسرسی ومومئ چې مونږ د دوی حساب ته لیږو.

**پوښتنه: آیا د USCIS آنلاین حساب/اکاونټ په دري او پښتو ژبو د لاسرسی وړ دی؟**

ځواب: نه، د USCIS آنلاین حساب/اکاونټ یوازې په انګلیسی ژبه د لاسرسی وړ دی. د USCIS ټولې فورمې که په آنلاین ډول وی یا هم پر کتبي/آفلاین بڼه وی یوازې په انګلیسي ژبه د لاسرسی وړ دي.

**د درخواست/کیس حالت کتل**

**پوښتنه: زه څنګه کولی شم خپل د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیک او د EAD غوښتنې وضعیت/حالت وګورم؟**

ځواب: که تاسو د USCIS آنلاین حساب له لارې د I-131 فورمې په سپارلو سره د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست ورکړې وي، تاسو کولی شئ په خپل حساب کې د خپلې درخواست وضعیت/حالت وګورئ. موږ یو لنډ ویډیو لرو چې تاسو ته لارښود کوي چې تاسو څنګه کولی شئ په خپل حساب کې د خپلې درخواست وضعیت/حالت وګورئ. تاسو همچنان کولی شئ د آنلاین درخواست وضعیت/حالت له لارې او خپل د رسید شمیره دننه کولو سره د خپلې قضیې/کېس وضعیت وګورئ.

**د پروسس موده/وخت**

**پوښتنه: د افغان اتباعو لپاره د دې نوي غوښتنلیک پروسې له لارې د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیکونو د پروسس لپاره اټکل شوی وخت څومره دی؟**

ځواب: موږ به د یوې منظمې پروسې له لارې کار وکړو ترڅو داړ ترلاسه کړو چې د وړ افغان اتباعو د پارول د تمدیدولو غوښتنلیکونو په وخت پروسس شي او هغه درخواستونو ته لومړیتوب ورکوو چې د پای نیټه یې کم پاتې وي. اوس، موږ اټکل نشو کولی چې د درخواستونو پروسس څومره وخت به ونیسی. په آنلاین ډول د درخواستونو ډکول کولی شي په عمومي توګه د پروسس د وخت کمولو کې نور هم مرسته وکړي ترڅو USCIS ته په فزیکي ډول فورمه ونه لیږل شي. په آنلاین توګه د غوښتنلیکونو ډکول د هغه عام غلطیو مخه هم نیسي چې موږ یې د کتبي/آفلاین فورمونو کې اکثره ګورو کوم چې د غیر ضروري ځنډ لامل ګرځي.

**پوښتنه: که چیرې زما د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیک د پروسس په حال کې وي او زما لومړني پارول وخت پای ته ورسیږي نو باید څه وکړو؟ آیا تاسو به زما پارول نیټه وغځوئ پداسې حال کې چې تاسو زما د پارول د تمدید (Re-Parole) غوښتنلیک پروسس کوئ؟**

ځواب: نه، کله چې ستاسې ابتدايي پارول نیټه پای ته ورسیږي، تاسې به نور په متحده ایالاتو کې د پاتې کیدو/اوسېدو اجازه ونلرئ مګر دا چې تاسو ته د کډوالۍ حالت لکه پناهندګۍ، د ځانګړي مهاجر پر بنسټ قانوني دایمي استوګنې یا موقت خوندي حالت (TPS) ورکړل شوی وی. هغه کسان چې د پناه غوښتنې، TPS، او د وضعیت د غوښتنلیکونو د تعدیل سره مخ دي ممکن په متحده ایالاتو کې پاتې شي تر هغه چې د دوی د قضیو په اړه پرېکړه ترسره کیږي. مونږ تاسو په کلکه هڅوو چې هرکله نوې پروسه د لاسرسي وړ وګرځي د پارول د تمدید (Re-Parole) لپاره غوښتنلیک ژر تر ژره تکمیل او وسپارئ.

**پوښتنه: زه تر اوسه USCIS ته انتظار یم چې زما د پناهندګۍ غوښتنلیک پروسس کړي. آیا زه باید د دې نوي پروسې له لارې د پارول د تمدیدولو لپاره درخواست ورکړم؟**

ځواب: د هغو موقت اجازه لرونکو افغانو (Afghan Parolees) لپاره چې د پناه غوښتنې/پناهندګۍ یا د قانوني دایمي استوګنې د تعدیل لپاره غوښتنه کوي (د مثال په توګه د ځانګړي مهاجر په توګه د وضعیت تنظیم کول) مخکې له دې چې د دوی د لومړني پارول موده پای ته ورسیږي، تاسو اړتیا نلرئ د دې نوي پروسې له لارې د پارول د تمدیدولو لپاره درخواست ورکړئ.

په دې دلیل چې په ډیری قضیو کې بیړنې بشري دلایل او د پام وړ عامه ګټې د دوی اصلي پارول مرستې لاندې دوام لري او د دوی لپاره د اړتیا وړ وخت په پیژندلو کې چې د دوی د پارول هدف ترسره کړي او د دوی د کډوالۍ حالت منظم کړي، DHS په پلان کې لري چې دوی د قضیې په اساس د دوی د اصلي پارول دورې غزول په پام کې ونیسي.

که ستاسې درخواست قبول شي، ستاسو د **استخدام اصلي جواز سند** (EAD) به د I-797C فورمې د صادرولو له لارې تمدید شي، د اضافي اقداماتو خبرتیا، د USCIS سره ستاسو د ریکارډ وروستي آدرس ته لیږل کیږي. که تاسو د استخدام اجازې په لټه کې یاست، تاسو

کولی شئ د "c(11)" کټګورۍ په کارولو سره، د استخدام د اجازې لپاره غوښتنلیک I-765 فورمه ډکه کړئ، کوم چې به د فیس ورکولو څخه معاف وي او د دې منظم پارول د تمدیدولو غوښتنلیک پروسې برخې په توګه به پروسس شي.

**د I-94 فورمه**

**پوښتنه: آیا زه به د CBP څخه د تګ/ راتګ (Arrival and Departure) ریکارډ، نوی I-94 فورمه ترلاسه کړم؟**

ځواب: که موږ ستاسو د پارول د تمدیدولو درخواست تصویب/قبول کړو، ستاسو I-94 به تازه/آپډیټ شي او ستاسو د USCIS لخوا صادر شوي قبولي خبرتیا سره به ضمیمه شي. تاسو همدارازکولی شئ ستاسو د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست له تصویب/قبولي وروسته سمدلاسه خپل تازه شوي/آپډیټ I-94 فورمې ته د [متحده ایالاتو د ګمرکونو او سرحدونو محافظت (CBP) I-94 ویب پاڼې / U.S. Customs and Border Protection (CBP) I-94 website] له لارې لاسرسی وموم

**پوښتنه: زه څنګه کولای شم وګورم چې آیا زه د OAR قبولی لرم او که د PAR کټګورۍ قبولی لرم؟**

ځواب: د قبولي یا پذیرش کټګورۍ ستاسو په I-94 فورمه، د تګ/ راتګ (Arrival and Departure) ریکارډ کې مشخص شوي ده. هغه کسان چې متحده ایالاتو ته د پارول له لارې د راتګ په وخت کې یې د I-94 فورمه ترلاسه کړې باید [د CBP فورم I-94 ویب پاڼې] ته لاړ شي ترڅو خپل د I-94 فورمې یوه کاپي وګوري او چاپ کړي. د CBP وېب پاڼې کې ستاسې لپاره هغه لارښوونې شتون لري چې تاسې څنګه خپل اوسنی [فورم I-94 په دري (PDF)] او [فورم I-94 په پښتو (PDF) کې] ولټوئ او پیدا یې کړئ.

د DT داخلي کټګورۍ سره د پارول نورې کټګورياني

**پوښتنه: لکه څنګه چې [د کورني امنیت ډیپارټمنټ (DHS) / Department of Homeland Security's (DHS's) website] ویب پاڼې کې یادونه شوې، ځیني اوکرایني وګړو په اتومات ډول د لومړني پارول د مودې تمدید یې ترلاسه کړې دې. د متحده ایالاتو حکومت ولې په اتوماتیک ډول د افغان اتباعو لپاره د پارول موده نه غځوي/تمدیدوي؟**

ځواب: د "اوکراین لپاره د متحد" پروګرام له پیل څخه دمخه، په 2021 کال د روسیې له خوا په اوکراین باندې د بې بنسټه یرغل وروسته، ځیني اوکرایني اتباع او دوی نږدې کورنۍ متحده ایالاتو ته او [د اوکراین لپاره متحد پروګرام] د شتون څخه دمخه د نږدې 8 اونیو په موده کې پارول شوي ول. دا کسان عموما د یو کال لپاره پارول شوي وو، پداسې حال کې چې د اوکراین لپاره متحد پروګرام کې برخه اخیستونکو د دوه کلنې مودې لپاره یې پارول ترلاسه کړ. DHS د دوی د پارول موده یې وغځوله ترڅو د دوی د پارول موده دوه کلن دورې ته او هغه کسانو چې د اوکراین لپاره متحد پروګرام له لارې ترلاسه کړي پارول سره ورته کړي. DHS په اوتومات ډول د دې خلکو څخه هیڅ یو ته یې پارول (Re-Parole) نه دی تمدید کړی. DHS د ځینو ځانګړو افغان اتباعو لپاره چې د 2022 په جولای کې یې له دوه کلونو څخه کم پارول ترلاسه کړی وه د ابتدایي پارول موده یې ورته غځولې ده.

**پوښتنه: آیا افغان اتباع چې د DT منلو کټګوی کې شامل وي کولی شي د دې نوي غوښتنلیک پروسې له لارې د پارول تمدید (Re-Parole) او EAD لپاره درخواست ورکړي؟**

ځواب: د "DT" اقامې کټګورۍ معمولا د یو کال او یا د یو کال څخه کم مودې لپاره کارول کېږي. په متحده ایالاتو کې د پارول کیدو راهیسې، ډیری افغانانو د اقامې کټګورۍ "OAR" ته تبدیل/آپډیټ شوی دی او د دوی د پارول موده دوه کلونو ته غځول شوی دی. هغه کسان چې متحده ایالاتو ته د پارول له لارې د راتګ په وخت کې یې د I-94 فورمه ترلاسه کړې باید [د CBP فورم I-94 ویب پاڼې] ته لاړ شي ترڅو خپل د I-94 فورمې یوه کاپي وګوري او چاپ کړي. CBP وېب پاڼې کې لارښوونې شتون لري چې څنګه خپل اوسنی [فورم I-94 په دري (PDF)] او [فورم I-94 په پښتو (PDF) کې] ولټوئ او پیدا یې کړئ.

که تاسو یو افغان یاست چې د 2021 کال د جولای د 31 او د 2022 کال د سپتمبر تر 30 مې پورې په متحده ایالاتو کې پرول شوی یاست؛ یا د 2022 کال د سپتمبر له 30 مې څخه وروسته په متحده ایالاتو کې پارول شوی یاست، او یا د یو داسې کس خاوند/مېرمنه یا ماشوم/اولاد یاست (چې هغه د 2021 کال د جولای د 31مې او د 2022 کال د سپتمبر تر 30مې پورې په متحده ایالاتو کې پارول شوی

وي)؛ او یا د یو ېی سرپرستې ماشوم مور او پلار یا قانوني سرپرست یاست (چې هغه د 2021 کال د جولای د 31مې او د 2022 کال د سپتمبر تر 30مې پورې په متحده ایالاتو کې پارول شوی وي)؛ او ستاسو په فورمه I-94 کې د داخلې/پذیرش "OAR" یا "PAR" حالت نه وي ترلاسه کړي، مهرباني وکړئ CBP سره په دی ایمیل آدرس oawi94adjustments@cbp.dhs.gov له لارې اړیکه ونیسئ ترسو مخکې له دې چې تاسو د پارول تمدیدولو درخواست درج کړئ، د داخلې/پذیرش کټګوری تازه/آپډیټ کړئ، که مناسب وي.

**فدرالي ګټې او خدمتونه**

**پوښتنه: که تاسو زما د پارول د تمدید (Re-Parole) درخواست قبوله کړله، آیا زه به بیا هم وکولی شم چې د ګټو څخه برخمن شم لکه د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر / Office of Refugee Resettlement (ORR) څخه د نغدي پیسې او طبي مرستې ترلاسه کړم؟**

ځواب: هو، ټول وړ افغانان چې موقت اجازه (Parole) لري، هغه کسان چې د جون په میاشت کې پیلیدونکې د نوي پارول تمدیدولو پروسې (Re-Parole) له لارې پارول موده یې تمدیدیږي، او همدارنګه افغان کډوال، پناه غوښتونکې، ځانګړي کډوال، او نور د ORR له مستحق خلک (د نورو جزیاتو لپاره د ORR د پالیسی لیکونه 16-01 او 22-02 (PDF) وګورئ)؛ د ORR لخوا تمویل شوي خدماتو څخه ګټه اخیستلی شي. د یادونې وړ ده چې د TPS ګټه اخیستونکې د ځانګړو قانوني افغان پارول ګټو لپاره وړ ندي که چیرې د دوی پارول (موقت اجازه) پای ته ورسیږي. افغان موقت اجازه لرونکې (Parolees) ممکن د نورو ګټو ترلاسه کولو لپاره مستحق وي.